عبدالوهاب باور

۲۰۲۳/۰۸/۲۴

# غـزل

هیچا و نه ویل ددین تولـه فلسفه تېره کړه!
دلته هر نوی امام وایی کلیمه تېره کـړه!

زموږه عمر د مذهب په شکلیاتو تېر شو
پوره پېړی مو تش د ږیـرې په قبضه تېره کړه

عمر دې تېر کړلو خپل مخ دې پـکي و نه لیدۀ
له دې دنیا نـه دې تیـاره کې آئینه تېره کړه

پل صراط باندي دې ښکلي له جنته و ایستي
څـه پېښي لوڅي دې د حـورو قافلـه تېره کړه

واعظ د دین کتاب پـه لاس کې سر چپه نیولی
چې حق وینا وکـړي بـاور ؛ وایي توبه تېره کړه!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ